مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبر بری ۲۰۲۱/۰۳/۰۷

# خرامان یوسف

آخرمو یوسف ته هم یونوم ورپیداکړ:«خرامان یوسف!».چې ربښتیاخبره شي دا نوم اصلاً ماورباندې کېښود. اوداڅه داسې اسانه کارنه ؤ. مثلاً داماته که یې «پك سلیم»ویل، نوربښتیا مې هم دسرووېښته په دې ځوانه ځوانۍ کې لالړه نیمایې ډېرتوی شوي وو؛ او «وارخطاسخي»خونوکه تاهم لیدلی وای همدانوم به دې پرې ایښی و. هروخت به داسې تلولی تلولی رهي و،هرکار به یې داسې په بیړه بیړه کاوهٔ،اوتل به داسې ساه نیولی درته ړ.غېدهٔ،چې تابه ویل یوې ښې غټې ډلې خروړوسپیوپسې رااخیستی..
خویوسف ته،چې هم یې څېره اوځواني ترموږ ښکلې وه،هم یې نورکړهٔ وړه ترموږ ښه وو،دیوهٔ مناسب نوم موندل یوڅهٔ بخت ،اوترهغه لاهم ډېرتخیل ته اړتیالرله؛اودانېکمرغي یوه ورځ ماته راپه برخه شوه. دغه ورځ زه لړدوخته پوهنتون ته راغلی وم. بس دغسې بېکاره دخپل پوهنځي مخې ته ګرځېدم چې له لرې مې یوسف ترسترګوشو. دمرکزي لیلیې له خوا پوهنتون ته رارهي و. خدازده ولې یې دغه ورځ کتابونه دښوونځیودجنګیوغوندې پرځیګرنیولي وو. په لاره هم داسې په نخرونخروته ،لکه کومه مسته پېغله چې دچټوزلمیوبې لارې کولوته راوتلې وي. دهغه په داسې لیدومې یوناڅاپه ذهن ته راتېره شوه: «خرامان- یوسپ »،اوله دې سره مې خوله هم ویړه شوه.دغه ؤ. بالکل دغه ؤ. خرامان یوسف!.شېبه پس چې مې نوروانډیوالانوته کیسه وکړه دهغوی هم راسره خوښه شوه.اوډېرساعت لا نه ؤ تېرچې یوسف موهم دهغه له نوي نامهٔ خبرکړ. څه فکرکوې چې یوسف نومانااله دې املهٔ موږ ته په قارشو،یا یې خوارا‌څخه بده کړه؟ ها؟... نه بابا، یوسف هماغه پخوانی یوسف پاتې شو.هماغه هروختنۍ موسکا په شونډویې زموږ خبرې واورېدې .په پای کې یې هم په هماغه نرمه لهجه وویل:
هی هی دخنزیربچیو اخرموزه هم له شره خلاص نه شوم-.
اوله موږ سره یې یوځای پر خپل نوي «نامهٔ» وخندل..
په دې ډول نوداوزموږ پخوانډیوالانووروستی تن هم دخپل نامهٔ خاوندشوی ؤ. ومې ویل « پاخه انډیوالان؟» . هو، پاخه انډیوالان!
ربښتوني پاخه انډیوالان. اودا، په دغووختونوکې څه داسې وړه خبره نه وه. .دادکمونستانودپاچهۍ زمانه وه. پر ټول ملك ترورااختناق خپورؤ. هره ورځ نیول ،ترټل ،وژل اوتري تم کېدل روان وو. دلته په پوهنتون کې خوبیاسورقیامت جوړؤ.هره ورځ، نن دلته، سبا هلته، همدامحصلین خواران ووچې د«انقلابي دولت»منګولوته ورتلل څو خپل «انقلابي چلند» ورسره وکړي. دلته که د«انقلاب ضد عناصرو» شمېرډېروو،نوهغومره ډېرهم د«انقلابي عناصرو» شمېروو،چې په ټول زیاریې په «انقلاب ضدعناصرو»پسې رااخیستې وه. له همدې املهٔ هم دلته یوهٔ داسې لعنتي ډاراوبې باورۍ لمن غوړولې وه چې دسړي په ستوني کې یې یومخ ساه ورنښلوله. بس هرڅوك له هرچا ډارېدهٔ. هرڅوك پر هرچا شکمن ؤاوهرچا له هرچا ځان ساتهٔ. اوس نو په دغسې یوهٔ بد حالت کې دداسې یوهٔ پاخه انډیوال موندل چې پوره باورپرې وکړای شې، بېغمه دخپل زړهٔ راز ورسره شریك کړای شې، ان تردې چې خپل وصیت لا ورته وکړای شې چې: ماناکه دغه زه چېرې ددولت کسانوونیولم نوته به چا اوچاته زما دنیولوخبرورکوې،کوم اوکوم ګامونه به زما دژغورنې په نیت اوچتوې؛ اودکوماو کومو کارونوله کولو به ځان ساتې، ربښتیاهم څه داسې وړه خبره نه وه. اویوسف ،زموږ یوله همدغسې انډیوالانوڅخه ؤ. دهٔ موږ ته خپل وصیت کړی ؤ، موږ ده ته. ددهٔ هره پټه خبرله موږسره کېده او زموږ هغه له دهٔ سره. دهٔ پرموږ پوره باوردرلود؛اوموږ پر دهٔ باندې. همداوجه وه چې له دې ټول ترور اواختناق سره سره موږبیا هم له یوبل سره ډېرخوشاله وواوپه یونه یوډول مودځان خوشاله ساتلوته پام ساته. ځنګه یې کوې، ځواني وه، هغه دچا خبره د«جاهل توب»وختونه مو وو. که له یوې خواله ډېرې وېرې له خپل سېوري تښتېدو، له بلې خوا مو له خپلوټوکوټکالو،ساتېریواو«ریشخندبازیو»هم لاس نه اخیست؛ اوولې مو لاس ترې اخیستی وای؟ تراوسه خوپه یونه یوډول دانقلابي دولت له شره خلاص پاتې شوي وو. په نورو که هره ټکه رالوېدلې وه، لوېدلې به وه، خو په موږ نیږدې انډیوالانوکې دخدای په فضل دچا دسر وېښتهٔ هم نه ؤ خم شوي....



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

خوزمور دې بې غمه ژوند هم ډېر دوام ونه کړ. يوه ورځ زمونږ وارهم راورسېد. ښاغلی مهال ؤ، ما په مرکزي ليليه کې ډوډۍ خوره چې« کونږ نادر »مې مخې ته شين شو: :سليمه ته دلته يې؟
- هو، ولې ؟
- يوسپ يې نيولی.
زما خدازده ولې له خولې ووتل:
- کوم يوسپ ؟
داخبرمې لکه چې په نادر ښه ونه لګېده،رابانډې رابرچ يې وهل:
- څنګه کوم يوسپ؟...خرامان يوسپ يې نيولی.
اودخرامان له اوريدو سره نوځدای شته زما هم «بن..ن.....ن ...نګ»شو، ازانګې مې په غوږونوکې وشوې. .
بې اختياره مې وپوښتل:
- څه وخت؟
- همدا اوس.... يوسات مخکې.
- تاته چا وويل؟
نادر تلولې شاوخواوکتل ساه نيولی ورانډې لاړ:
«توربصير»..يوسات مخکې ...دی په سينپ «صنف»کې وچې له اداري څخه ليست راغی ...هارون اوايساك «اسحق»او امدشا«احمدشاه»يې هم ورسره بوتلل.دپزلولا«فضل الله»نوم هم په ليست کې ؤخو هغه شکرنن پوهنتون ته نه ؤ راغلی.
زياتې نوماته دخوړواشتها راپاتې نه شوه،په بيره مې وپوښتل:
- زما نوم خو نه ؤ پکې؟
چې دۀ وويل:
- نه.
ډوډۍ مې دغسې پرمېزپرېښوده پاڅېدم. له نادر سره يوځای سيخ زمونږ کوټې ته ورغلوچې يوسف هم پکې راسره اوسېدۀ. هلته مخامخ ديوسف دکټ پر لور وررهې شوم، خو لا سم نه وم وررسېدلی چې په تاو مويودم دکوټې ورخلاص شو. دې کار مو زاره راوچوده. وارخطامووۀ ته وکتل. خوشکر مازې غلام حبيب ؤ. دهغه ښه هم الوتې وه .وارد واره يې وويل :
- يوسپ يې نيولی.
مونږ ورجوخته کړه چې مونږ هم خبريوو.اوبيا په ګډه ديوسف د «شيانو»په پلټلوسرشوو : کتابونه ،کتابچې ،د کاليو الماری،ان کټ اودجامو‌سندوخ مو يې لا په ځيروپلټل. له ښه مرغه هيڅ کوم «خطري شی»نه ؤ پکې. دې کارموزړۀ لږراته په کراره غوندې کړخو څوشيبې بياهم دغسې منګ پر خپل ځای ناست پاتې شوو. وروسته له هغه مې سر راپورته کړدوی ته مې کړه:
- زه اوس پوهنتون ته ځم،خپل پوهنځي ته ...هلته ښايې څه نورمالومات ترلاسه کم...تاسې هم په يونه يوکارځان اخته کئ، لکه هيڅ چې نه وي پېښ.خو خپلوخبرواوکړووړو ته پام کوئ... چې هيڅ کوم بې ځايه څه درڅخه ونه شي ،پوی شوئ؟...
چې دوی راته «ښه»کړه، زه هم نورونه ځنډېدم،له شورماشوراوارو دوړه په ډك زړه پوهنتون ته تږې وخوځېدم. اوهلته مې ربښتياهم ښه ډېر مالومات ترلاسه کړل. خبره زمونږ تراټکل لويه وه. په دغه ورځ ښايسته اوږد ليست زمونږ پوهنځي ته راغلی و.هلکانوويل چې له نژدې هرتولګي څخه يې محصلين بيولي وو. خوځوتنه ؟ له کومو تولګيوڅخه ؟اوپه څه خاطر؟... دا هغه پوښتنې وې چې سم دلاسه يې هيچا کره ځواب نه درلود. بس هرچا له خپل اټکل اوګومانه انګېرنې لرلې.اوهمدې خبرې دټولوډاراونارامتيا ته لا زور ورکاوۀ. ټول وارخطااوډاراخيستې وو. هرچا ته چې دې کټل ښې يې داسې الوتې وې لکه دمروخاوره چې دې ورشيندلې وي. ښکاره ده چې زماحال هم تردوی ښه نه ؤ، خوچاره څه؟ له دې راپېښې بلا دتېښتې لاره ماته هم نه وه رامالومه. هماغه ؤ چې زياتې مې په پوهنځي کې پاته کېدل بې ځايه وګڼل. پاڅېدم،نېغ دعلي آباد روغتون مخې ته دملې بسو تمځای ته ورغلم. لومړی ښار، بياله هغه ځايه په بل ملي بس کې سيد نورمحمدشاه مېنې ته لاړم. چې وروړسېدم، سيخ ديوسف دماماکورته ورغلم. هلته مې هغوی، هم په کيسه خبرکړل اوهم مې هغه ټولې سپارښتنې، چې ددې حالت دپېښېدو په صورت کې يوسف راته کړې وې، تردوی پورې وررسولې. چې بېرته ليليې ته خپلې کوټې ته راغلم دانور انډيوالان مې هم په حال خبرکړل. دې کار دهغوی زړونه هم زما غوندې لږ په کراره کړل. زياتې مونو ځانونه دخدای رضا ته وسپارل. دېخوا غوندې موخپل ژوند اولارې چارې په «عادي» ډول جارې وساتلې. لکه هيڅ چې نه وي پېښ. خوداخوشې دځان غولول ؤ. څنګه څه نه ؤ پېښ؟ زمونږ ډېرنژدې انډيوال يوسف يې راڅخه نيولی ؤ. دا ؤ اوس يې زمونږ پخوانډيوالانوکتارهم په يوۀ ځای کې راکنډوکړی ؤاودې کار مونږ ټولوته ښه غټ ټکان راکړ. ټول يې ښه مزغن وبوږنولو، داسې کلك يې ټول وډارولوچې يومخ مو ساړۀ په هډو ننوتل. .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خو يودوه خبرومو خدازده ولې؟ زړه ته يوډول تسل هم راکاوهٔ، يوډول هيله يې هم راکې زېږوله؛ اوهغه ،لومړی داچې په داسې حالاتو کې ديوسف راته کړی وصيت موبشپړاوبې له ځنډه پر ځای کړی ؤ. هم مويې دماماکورنۍ له نيول کېدوخبره کړې وه، هم مو دهغه کوټې ته داستخباراتودکسانوترراتلومخکې دهغه ټول شيان په بشپړپام پلټلي ووچې که چېرې کوم خطري شی پکې وي، ژرترژره يې ترې ايسته کړو. اودويمه خبره يې دا چې يوسف يې «له ښه مرغه» نه په يوازې سر نيولی ؤ، نه هم له مازي يو دوو تنوسره. نه، زموږ انډيوال يوسف يې له يوې بشپړې ډلې محصلينوسره نيولی ؤ. اودې خبرې ان له هغه اوله سره لاداګومان راکې ويښاوهٔ چې سرېه يوسف يې ښايي په غلطه نيولی وي. سره له دې چې خپل دې ګومان ته مو هيڅ ثبوت هم نه لارهٔ، خودا فکر، خدای شته يوه لحظه هم نه راکې کمزوری کېدهٔ چې زموږ انډيوال يوسف به يوه نه يوه ورځ ضرور بېرته راخوشي شي، ځکه دولت پرهغه باندې کوم خاص سند نه لرې، کنې يوازې به يې نيولی ؤ.

اودې ته ګوره چې ددرېمې ورځې په ماښام يې يوسف رښتيا هم بېرته راخوشي کړ. .!

ددې معجزې پېښېدوڅومره هك پك کړو، څومره يې خوشاله کړو، دهغې اټکل خوبه نو ته هم کولی شې. په ټولوکې له سره ساه وچلېده. عجيبه وه. يوسف بېرته راخلاص شو؟هغه هم دکمونيستي دولت له شره؟ هغه هم داسې لنډګښد؟...خو تردې لاهم عجيبه دا چې يوسف پخپله له خپلوراخلاصېدويوه زره هم خوشاله نه مالومېدهٔ. هسې سوړپوړ کوټې ته راننوت، په وچ زور يې موږ ته لنډ وموسل، زهيراوچوپه خوله يې په خپل کټ باندې ځان واچاوهٔ. خوموږ ډېرمجال ورنه کړ، په بيړه ترې راتاو شوو ترې وموپوښتل: :

- يوسپه؟
- ها
- شکر چې راغلې... په خېر راخلاص شوې؟
- هو.
- څه وخت؟
- يوسات مخکې.

دهغه دې لنډوځوابونوبې حوصلې کړو،خلق تنګه مو ورجوخته کړه::

- ښه نو ولې داسې چوپ يې ؟...کيسه کوه کنه، څنګه يې راخوشي کړې؟

يوسف مازې لنډ په څنګ راوکتل، بې له دې چې څه ووايي ترخهٔ يې موږ ته وموسل. چې موږ بيا هم ټينګار پرې وکړ:

- وايه کنه يوسپه ...څنګه يې بېرته راخوشي کړې؟

يوسف هم چوپتيا ماته کړه.سوړاسويلی يې وکيښ، بيا يې هماغسې په ځای کې پروت، لکه په زوره چې اقرار ترې اخلې، په لنډولنډوخپله کيسه موږ ته وکړه : سړی يې مخامخ استخباراتوته بيولی ؤ. هلته يې له ښه مرغه نوروشکنجوته نه ؤ ورکړی خوپه سوکانواولغتويې ښه ټينګ ډبولی ؤ. دهٔ چې هرڅومره دخپلې ګناه پوښتنه ترې کړې وه چا ځواب نه ؤ ورکړی. بس همدا سوکان اولغتې وې چې پرې اورولې يې وې. وروسته له هغه يې په يوهٔ تياره کوټه کې له دوه- درې تنو نوروبنديانوسره اچولی ؤ، چې دهغوی حال تردهٔ لا بدتره وو. دوې شپې اودوې ورځې يې همداسې بې له کوم تحقيق اوسوال و ځوابه پرې تېرې کړې وې. اونن چې يې بيا له کوټې څخه رااېستلی ؤنودهٔ ګومان کاوهٔ چې ښايي بيا يې وهلوټکولوته ورکوي، يا به دکوم جرم تورپرې لګوي.خوددې ټولوپرځای يې دودانۍ په يوهٔ بل ګوټ کې يوې داسې کوټې ته وردننه کړی ؤچې دکوم دفترغوندې يې سم دم مېز اوڅوکۍ پکې ايښې وې. دمېز شاته هم يوپړېربړېتی خوډنګرسړی ناست ؤ. سړي دهٔ ته په مخامخ څوکۍ باندې ان دکښېناستوست لا کړی ؤ. اوچې دی په څوکۍ کښېناستلی ؤنوسړي هم بې له ښکنځلواوسپکوسپاندوپه يوڅه مودبه خوآمرانه لهجه ورته ويلي وو چې موږ ستاله نيږدې شاوخوا څخه خبرشووچې ته له انقلاب ضدباندونوسره تړاو نه لرې. ځکه دې اوس خوشي کوو. خوداپه دې مانا نه ده چې ته نو ګواکې زموږ له انقلابي څارنې خلاص شوې. نه، موږ دې له دې وروسته هم هماغسې له نژدې څارو؛ اوکه موڅه درکې وموندل بياخونوته خپله هم پوهېږې چې څه به درسره وکړو. بيا يې پرې وربرېچ وهلي ؤ:«ځه، اوس مې له مخې پرته شه!»اوپه دې ډول يې دی بېرته راخوشي کړی ؤ.

.

موږ له حيرته په وازه خولهٔ ددهٔ کيسه واورېده.بياموډخپل پوهنځي دها نورو رامالوموکسانودحال پوښتنه ترې وکړه، خودهغوی له حاله دی هم نه ؤ خبر. داسې مالومېده چې هريويې جلاجلا ساتلی اودهر يوهٔ برخليك يې په جلا ډول ټاکلی ؤ. په هرحال،کومه خبره چې همدااوس دډېرې خوښۍ وه هغه دا وه چې زموږ انډيوال يوسف دانقلابي دولت له شره په خير راخلاص شوی ؤ؛ اودوهلوټکولوله څوخاپونواوتغموپرته شکرپه نوربدن هم روغ رمټ ؤ. اودا په دغو وختونوکې څه داسې وړه نېکمرغي نه وه چې دهرچا په برخه شي. خويوه خبره دخواشينۍ اونارامتياهم وه؛ اوهغه ،هغه ژور بدلون ؤچې له دغې ورځې راوروسته ديوسف په چلندکې راپيښ شو. يوسف زياتي هاغه زموږ پخوانی ټينګ انډيوال يوسف نه ؤچې دژوندهره شيبه او دزړه هره خبره يې له موږ سره شريکوله. نه، هغه اوس يومخ بدل شوی ؤ. هغه اوس دهرې ورځې په تېرېدوځان نوراونورهم راڅخه ګوښه کاوه. انډيوالي يې که څه هم له



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يوې مخې راسره شلولې نه وه، خوسړی له ورایه پرې پوهېدۀ چې هغه اوس مدام دخپل ځان دراخخه لرې ساتلوپه لټه کې دی، په تېره بیا هغه وخت چې موږ به دپخواغوندې دکمونیستې ګوند اودولت پرکړو وړو خبرې پیل کړې. داوخت خو به یې ځان داسې په بېړه راخخه ګوښه کړلکه له کومې روې چې تښتې. اوداهغه څه وُچې موږ ټول یې خدای شته دېرځورولو. یوسف؟...زموږ هاغه ټینګ انډیوال یوسف داسې له موږڅخه ځان ساتې؟ داسې احتیاط له موږ سره کوی؟...اخرولې؟ څه پېښه ده چې سړی داسې یومخ واووښت؟...دې،اودې ته ورته پوښتنوبه ضرورآنورانډیوالان هم ځورول، خوزه یې یومخ سربداله کړی وم. په تېره بیادهغه دې جملو:«.ستاله نیږدې!.شاوخوا څخه خبرشوو» او « وروسته له دې دې هم هماغسې له **نیږدې!**څارو؟ » هن؟ رښتیایې هم همداسې ورته ویلي وو؟،.که داسې وي، بیاخونوددې خبرې ماناداچې د یوسف په همدې «نیږدې!» شاوخوا کې یو څوک دولت ته زموږ جاسوسي کوي!..او ده ته تر ټولوور «نیږدې!» کسان خو همدا«موږ»یو کنه....ځکه خونویوسف هم له همدا«**موږ!»**څخه ځان داسې ساتې. خوڅوک ؟...څوك دی دا رزیل انسان چې دادومره غټ خیانت له موږ سره کوي ؟...ایا یوسف ته داخاین ورمالوم دی؟ایایوسف هغه پېژني ؟.نه ،نه...داخبره له عقله لرې بریښي. که ورمالوم وای نومازي له «هغه» څخه به یې ځان ژغورلی نه له موږ ټولوڅخه. که ورمالوم وای ښایي د هغه نوم یې ان موږ ته لا راښودلی وای...نه، یوسف ته یقیناً دا څوك نه دی ورمالوم؛ اوبرسېره پردې ددولت کسان دومره شوده ګان هم نه دي چې دخپل جاسوس نوم چاته رسواکړي. ښه نودادلستونې مارڅوك دی چې زموږ خبرې دولتي کسانوته وړي؟.څنګه به یې پېژنو؟اوڅه وخت به یې دادخیانت نقاب له مخې ایسته کوو. بس، شپه ورځ په همدې چورتونوکې راباندې تېرېده، پرله پسې مې له ځان سره ددې ترخۀ رازدراسپړلو هڅه کوله. خوټول بې فایدې. هرڅومره چې مې په ځان زور راووړ‌هغومره لږ دخپلوپوښتنوپرځوابولوبریالی کېدم. یوه ورځ خو مې ان دالا زړۀ ته راتېره شوه چې راځه سړیه دخپل زړۀ دا پټه خبره له کوم باوري انډیوال سره شریکه کړه. خوله چا سره؟ کوم باوري انډیوال؟ تراوسه خو موپه دې نیږدې انډیوالانوکې ټول باوري خلك وو. سره له دې موهاغه وو له همدې منځه یوڅوك ددولت جاسوس ختلی و. ښه نو اوس کوم ؤ هغه کس چې سل په سلوکې باور پرې وکړای شي؟څوك څه خبر،هغه څوك چې زه به یې ترټولوباوري ګڼم،همدغه کس،ښایي کټ مټ همدغه کس به هغه څوك وي چې انقلابي دولت ته زموږ جاسوسي کوي. نوبیا؟...هماغه وُچې بېرته له خپل فکره راپه شاشوم. .

دې نوروانډیوالانوته مو لکه چې هم همداسې پوښتنې ورپیدا شوې وې. ځکه هغوی هم ټول سرګردانه اویوډول په اندېښنوکې ډوب مالومېدل؛ اوبې له دې چې څوك دې چا ته څه ووایي ټولوله یوبل څخه ورو ورو دځان ګوښه کول پیل کړل. بس، په یوڅوورځوکې ټول پریوبل شکمن شوو. هرچا له هرچا ځان ساتۀ. هرچا له هرچا سره خپله خبره په پام کوله. ډېره موده نه وه تېره چې ورو ورو موهغه پخه انډیوالي سره په شلېدوشوه. اوچې له پوهنتونه راخلاصېدونوپه خواشینۍ سره مو ولیدل چې خدای شته ښه ډېر له یوبل څخه پردي شوي وو....

په هرحال، پوهنتون خلاص شو. له هغه وروسته هرڅوك په خپل خپل برخلیك پسې رهي شو. څوك په ملك کې پاتې شوڅوك له ملکه دباندې ووت. .

زه تقدیر ان جرمني ته راګوزارکړم. دلته که دمهاجرت ژوندیوڅه تریخ ؤنوهغومره بیاله ترورواواختناقه بېغمه وو، هغومره بیادفکراوبیان ازادي له ښه مرغه ډېره وه. زه هم بېکاره ورته کښېنناستم. ددې نوروهوطنوالوغوندې ماهم غونډواوټولنوته ملاوتړله،اوهغه دچا خبره«بهرمېشتی مقاومت»موورته پیل کړ. په دې ډول موهم دمهاجرت له ځوروونکي یوازیتوبه ځان ژغورۀ، هم موخپلې غاړې ځانونوته خلاصولې، چې مانامورږهم، که مونورهیڅ له وسې نه دي پوره دغومره خوضرور کولی شوچې دلته په دې لېرې اوپردۍ نړۍ کې زموږ وطن ته دورپېښ ناورین خبرتازه وساتو..

زموږ دنورو«فعالیتونو»په لړکې دغه یو«فعالیت»، زماپه ګومان ددېرې یادونې وړ وو.اوهغه، هرکال دمرغومې پر شپږمه نېټۀ «پرهیوادباندې دروسانودیرغل نېټه»زموږ ترټولولویه مظاهره وه. بس هرکال به پرهمدې نېټه د جرمني له ګوټ ګوټ څخه وطنوال د(بُن)ښارته ، چې هغه وخت دجرمني پلازمېنه ؤ، سره راټول شوو. لومړی به مودښـارپه واټونوکې ښه په کش مظاهره ورته وکړه بیابه دبُن لوی پارك(هوف ګارتن)ته ورغلو،هلته به مولومړی پرروسي ضد، کمونیستي ضد بیانیودخپل زړه بړاس ویوست، بیابه مودقطعنامې په صادرولویوځل بیاپرملك باندې دروسانویرغل وغاندۀ ترې وبه موغوښتل چې ژرترژره له افغانستانه پرته شي....

اودهمدې مرغومې دشپږمې نېټې په یوه مظاهره کې مې یوه ورځ خرامان یوسف هم ولید. هلته یوڅوکتاره له مامخکې په مظاره کې روان ؤ. خدازده ولې یې یوځل ترشاراوکتل چې مایې هغه هروختنۍ ښکلې څېره ولیده. یوسف ؤ. بې اختیاره مې له ځان سره وویل: ((خرامان یوسف؟!...دلته؟!..په جرمني کې؟!...)) اوله خوښیه په ټپاند زړۀ مې لاس ورته وخوځاوۀ، خوهغه لکه چې ونه لیدم.بېرته یې مخ واړاوۀ په مظاهره کې یې وړاندې تګ جاري وساتۀ. زما طاقت ونه شو. له خپله کتاره راووتم، غوښتل مې هغه ته ورشم چې دمظاهرې دنظم یوڅارونکی راوړاندې شو،نرم یې داوږې له راکښېکښودلوسره وویل:

-نه وروره...دمظاهرې نظم وساته،بېرته خپل لاین ته لاړ شه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چاره نه وه. ببړته خپل کتارته ستون شوم. خوبيامې نودمظاهرې ترپايه يوسف له پامه و نه غورځاوۀ. چې «هوف ګارتن» ته ورسېدواوټول شاوخوادبيانيولپاره مخامخ جوړشوي دريځ ته ودرېدو، زه هم نور ماتل(معطل)نه شوم،په بيړه مې يوسف ته ځان ورورساوۀ، غلی مې له مټه ونيوۀ. ماته له راکتوسره يې چيغه غوندې له خولې ووته::
- اوه !...اوه!...سليمه؟...ته؟
اوښه ټينګ يې په غېږ کې ونيولم. ماهم په داسې حال کې چې بې اختياره دهغه پوست غومبری مچاوۀ ورجوخته کړه::
- ته؟!...دلته؟...څه وخت؟... څه وخت په خيرراغلې؟
دۀ وويل:
- دانژدې دوه کاله کېږي،زوروره...
اوغوښتل يې نورهم وړاندې لاړ شي چې په دريځ باندې دبيانيېپل کېدوچوپتياته اړ يوست. هماغه ؤچې مازي په پسنهاري مولنډيوبل حال احوال وپوښته، په دې سلاشووچې له مظاهرې وروسته به ضروريوځای سره کښېنو. بيانودواړه مخامخ ويناکوونکي ته غوږشوو. خوپه دې ټوله موده کې موديوبل لاس نيولی ؤ، هرڅوشيبې پس به موپه مينه وړوسترګو يوبل ته سره وکتل اوبې اختياره به وموسېدو،لکه ترداوسه چې موهم له يوبل سره دبياليدونېکمرغي زړه ته نه وي لوېدلې. .
چې مظاهره دتل په شان د قطعنامې په صادرولوپای ته ورسېده اومظاهره کوونکي ببړته سره خوارۀ شول، موږهم همدغسې لاس په لاس ترټولونيږدې چايخونې ته سره لاړو. هلته مويوه ډکه چاينکه قهوه ځانونوته راوغوښته، له خوښيه په ډکوزړونوموغورې پيل کړې. دۀ لومړی جرمني ته دخپل راتګ کيسه راته وکړه، بيايې دلته دخپل روزګاراوسياسي پناهندګی له حاله خبرکړم، په پای کې يې هم زما دپوښتنوپه ځواب کې دنوروانډيوالانوپه باب اوله هيواده زماترراوتووروسته پېښوپه باب، ترکومه ځايه چې دۀ ته ورمالوم وو، مالومات راکړل. ماهم خپله کيسه ورته تېره کړه. دخپل ځاني ژوند، خپلې کورنۍ اوزموږ دګډوانډيوالانودپاتې برخې په باب رامالوم خبرونه مې ټول ورسره شريك کړل. چې له دې خبرورااخلاص شوو، زياتي نوماهم خپلې اصلي پوښتنې ته وارراغلی ولبد. له تودې قهوې څخه ديوۀ غټ غړپ له کولووروسته مې په داسې حال کې چې پياله ببړته پرمېزاېښوده،ترې وپوښتل::
- يوسپ جانه؟
- ها؟
- اوس خودادی شکرپه ببغمه زړه سره ږغېدای شو، کنه؟
يوسف تندی لږسره ګونځې غوندې کړويې ويل:
- هوشکر...ولې ؟
اوچې مانبغ په نېغه ورجوخته کړه::
- ښه نواوس خوراته ووايه چې هغه په تاکې څه پسات ؤ چې ويې نيولې؟
مهربانه يې وخندل ويې ويل:
- پسات؟...څه پسات؟... هيڅ پسات هم نه ؤ راکي.
- نوولې يې ونيولې؟
هماغسې په خندايې راغبرګه کړه:
- بس ستاسې په خاطر يې ونيولم.
دې ځواب يې هك حيران کړم،په تعجب مې له خولې ووتل::
**- «زموږ»په خاطر؟**
- هو،ستاسې په خاطر.
اوپه خپله څوکۍ کې له سره راسم کېدو وروسته وړاندې پسې لاړ:
- ته ښه خبريې چې هغه وخت د پوهنتون ټول محصلين د ګوندي کسانو ترڅارنې لاندې وو. هر پوهنځی، د هرپوهنځې هرټولګی......
مامازي سردتائيدپه علامه ورته وخوځاوۀ، دې مې دخپلې خبرې کولوته پرېښود.دۀ هم ډېر ونه ځنډولم پسې زياته يې کړه:
- زموږ ټولګی هم دنوروټولګيوغوندې په وړو وړوډلووېشل شوی ؤچې هري يوې يې خپل څارونکی لارۀ...خويوازې دا زموږ ډله وه چې له دې شره خلاصه وه؛ هغه هم نه له دې کبله چې موږ نوګواکې ګوندې څارونکی نه لارۀ، نه نه.موږ ته يې هم خپل کس ګومارلی ؤ. ګوډغلام درته ښيم...خوددوی بدمرغي په دې کې وه چې هغه موږ ته رامالوم ؤ. ځکه ددوی ترانقلاب مخکې لاموږ دهغه له ګوندي توبه خبروو. که ستا په يادوي څوڅوځله يې په دا ګوډه پښه خپلې هڅې هم وکړې، خوموږ ورته هوښياروو. هماغه ؤچې څه موده پس يې دی هم زموږ له ډلې وويست.....


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ما، چې په ذهن کې اوس يومخ هغووختونوته ستون شوی وم، دپخواغوندي سرورته وخوځاوۀ څه مې ونه ويل.
خويوسف په سنتوکې له لنډموسلوسره وړاندې پسې لاړ::
- ښه نوچې خبره داسې وه، اوس نوته خپله ووايه، دوی بايدڅه کړي وای، هن؟...موږ يې دغسې بې څارونکي پرې ايښي وای؟
چې زماچورتي له خولې ووتل:
- نه.
دۀ هم چټك راغبرګه کړه:
- نوبيا؟
اوبې له دې چې زما ځواب ته ماتل شي پرې ورزياته يې کړه:
- بياخونويې يوبل ځوك بايدراته ګومارلی وای. اودې کاريوازې په دوو صورتونوکې امکان درلود: يابه يې له بهره يوځوك زموږ په ډله راګډاوۀ، په دې صورت کې به موږ په اتومات ډول هغه ته دشك په سترګه کتل اودګوډغلام غوندي به موځان ترې ساتۀ. او يا خويې نوبياله همدې موږ څخه يو ځوك بايد خپلې جاسوسۍ ته ګومارلی وای؛اوهمداسي يې هم وکړل. زه يې ونيولم...ځکه ترتاسوټولوزه ډېر ډارن اوبېغيرته ورته واېسېدم...په هرحال. له پوهنتونه يې نېغ استخباراتوته وروستم.هلته يې هم خپله ښه مغزن وډبولم هم يې دنوروشکنجه کول راوليدل. اوف اوف،پوښتنه يې مه کوه. چې هرواربه يې خوارکيانوته برق(بربښنا)ورکړداسې سوې کريغه به يې له خولې ووته چې نه مې ولاکه دانسان داسې چيغه اورېدلې وي نه دحيوان. دې کار، که يوڅه غيرت له هاوهلوډبولوراپاتې ؤ، هغه يې دلته پوپناه کړ. بس په زاريوجګيوورته سرشوم چې هرڅه واياست هغسې کوم خودخدای روی ته وګورئ له دې برقي شکنجومې وساتئ.آخردوی هم راسره ومنله، ويل يې سمه ده، موږ خبريوچې ته له انقلاب ضدباندونوسره نه يې تړلی، خوداستاانډيوالان سم نه دي رامالوم. ددوی حال به ته رامالومې. بيايې يووړوکی ټېپ(ټېپ ريکارډر)راکړوې ويل په تا باندې هسې هم ستاانډيوالان باورلري، اواوس چې موته وهم نيولې،اوس خوبه يې پوره يقين راغلی وي چې ته زموږ له ملګروڅخه نه يې.که يې هم نودانقلاب ضدعناصروڅخه به يې اوداهغه څه دي چې موږ يې هم غواړو. ځکه اوس به لا په بېغمه زړه خپل رازدرسره شريکوي. ته به هم دهغوی داخبرې ټېپوې اوترموږ پورې به يې رارسوې. بس له همدې نن ورځې څخه ستاوزيپه(وظيفه)همدغه ده. يابه دانقلاب ملاتړکوې يابه دانقلاب ضدعناصروپه ډله کي دريږې،دربمه لارنشته. ماته هم بله چاره راپاتې نه شوه، ورسره و مې منله. هماغه ؤچې دوی هم ټېپ په لاس راخوشي کړم:.
ماتېره يوسف ته وکتل شکمن مې وپوښتل:
- اوتا؟
يوسف ترخۀ وموسل له شرمه په ډکه لهجه يې وويل:
- ما...ماهم همداسې وکړل.ځوځله مې ستاسې ټېپ کړې خبرې دوی ته ورسولې.
اوپه داسې حال کې چې غټې تورې سترګې يې راډکې شوې وړاندې لاړ:
- څه مې کړي وای؟... دغسې خومې هم دوی نه شوه پرېښودلای، زورراپسې ؤ. شاته پړانګ ؤمخته پاڼ. چاره نه وه.
اوديوۀ ساړه اسويلي له کښلوسره يې پرې ورزياته کړه:
- پوهېږې چې څومره عذابونه رابانديې تېرشول؟څومره مې له خپله ځانه بدراغلل؟...په شپوشپومې په خپل ځای کې ژړلي ...په کراتوکراتومې مرګ له خدايه غوښتی....
مالادغسې بوږنېدلي ورکتل چې يوسف بېرته ځان راتينګ کړ، مخامخ يې راوکتل ويې ويل:
- خودايوه خبره مې ښه په کلکه واوره. هيڅکله...هيڅکله مې ستاسې داسې خبره ټېپ نه کړه چې کوم جنجال تاسې ته پيښ کړي. همدا يو شرم مې بس ؤ چې د خپلو انډيوالانو جاسوسي مې کوله، خو د دولت سپيوته دهغوی په ګيرورکول؟نه. په هيڅ صورت سره نه. هماغه ؤچي ماته هم بله چاره راپاتې نه شوه بې له دې چې ورو ورو ځان له تاسې څخه راګوښه کړم. له ښه مرغه تاسې هم دوخت په تېرېدوسره وپاشل شوئ. اوداهمداسې ښه وه،ځکه په دې کې دټولوخيرؤ. اخردوی هم لاس راڅخه واخيست....
يوسف داوويل بيا دغسې چوپه خوله ماته راکتونکی پاته شو. لکه زما غبرګون ته چې ماتل وي. ماهم څوشېبې دغسې په انديښنوکې ډوب دۀ ته وکتل.وروسته له هغه پاڅېدم،په شمېرلوګامونودمېزآبلې خواته يوسف ته ورغلم، نرم مې يې سرپه غېږ کې ونيو. يوسف له غريوه په ډك ستوني وويل:
- اوس چې په رښتياکيسه خبرشوې، اوس هم نه يې رانه خپه؟
ماپه دلاساورغبرګه کړه:
- نه وروركه خدای دې نه کوي. په دغوشرايطوکې که زه هم وای همداسې به مې کړي وو..
په دې ځواب يې لکه چې ډاډګېرنه وشوه، پاڅېد مينه ناك يې په غېږ کې ونيولم. ماهم يوسف په غېږ کې ونيو، ورومې شاوخواوکتل. له دې سره مې پام شوچې شاوخواناست کسان ماناداره موسکاپرشونډوردډ موږته راګوري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

زه پوهېدم چي دلته په اروپاکي دنارینه وو په غیږکي سره نیولوته خلک په بله سترګه ګوري...خو موږ اوس په چاکې ری هم نه واهۀ.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ